**لنډه پېژنګلو:**

| | |
|---|---|
| نوم: | فاطمه |
| کنیت: | ام الحسن، ام الحسین، ام المحسن، ام الائمه، ام ابیها[1] |
| مشهورلقبونه: | زهرا، بتول، صدیقهٔکبري، مبارکه، عذرا، طاهره، سیدةالنساء، انسیه، حوریه، ذکیه، مرضیه[2] |
| پلار: | دخداېي پاک وروستي پیغمبر(ص)حضرت محمد(ص) |
| مور: | بي بي خدیجه رضی الله عنها د پیغمبر(ص) لومړۍ ماندینه او لومړۍ ښځه چې اسلام یې راوړ. |
| زوکړه: | په مکې کښې د بعثت په پنځم کال[3] |
| شهادت: | مدینه. د هجرت یوولسم کال د پیغمبر(ص) له وفاته دوه نیم کاله وروسته [4] |
| ښخیدو ځایې: | د سیاسی وجوهاتو او د خپل وصیت مطابق د شپې په پټه حضرت علی علیه السلام خاورو ته وسپارله [5]او تر ننه پورې یې قبرسم ځایې نۀ دی معلوم [6] |
| اولاد: | امام حسن مجتبی علیه السلام ، امام حسین علیه السلام، زینب(ع)، کبری(ع)، ام کلثوم(ع) او محسن علیه السلام چې سقط شو |

## د وحی او رسالت لور د پلار په څنګ کښې

د پیغمبر(ص) له بعثته پنځه کاله وروسته د جمادی الثانی د میاشتې په شلمه نیټه د جمعې په ورځ د پیغمبر (ص) او بي بي خدیجې په کور کښې یوې جینۍ سترګې وغړولې او ددې جینۍ (بي بي فاطمه) په زوکړې سره د رسول د خداي کور د مینې او محبته ډک شو د ګران رسول د غمونو دردونو او کړاوونو په غوغا کښې چې پیغمبر(ص) ورسره په مکه کښې مخامخ ؤ ورې بي بي

1. کشف الغمه چاپ اسلامیه 1381 هجری قمری ج2 ص 18. مناقب شهرآشوب چاپ نجف ج3.ص132 بحارالانوارچاپ جلدج43ص16 بیت الاحزان محدث قمی چاپ مطبعه سید الشهداء قم ص 12
2. مناقب شهر اشوب چاپ نجف ج 3 ص 133
3. مناقب ج 3 ص 132، اصول کافی ج 1 ص 458 .
4. مناقب ج 3 ص 132، اصول کافی ج 1 ص 458
5. مناقب, ج1 ص 137 , اصول کافی ج 1 ص 458
6. مناقب شهر اشوب چاپ نجف ج 3 ص 133

فاطمې (ع) د سحر د ورېمې په شان د پلار او مور زړه سوړ کړو. څومره لویه درجه او فضیلت دی د هغې لور چې د پیغمبر(ص) زړه ورسره قراریدو او فرمایل به یې: "فاطمه(ع) زما روح دی او له هغې څخه د بهشت او جنت بوي راځي" او خداي پاک د هغې د طهارت او پاکۍ په حقله وایې: "انما یرید الله لیذهب عنکم الرجس اهل البیت و یطهرکم تطهیرا"7 "خداي پاک اراده کړې ده چې تاسو د پیغمبر(ص) اهلبیت له هرې پلیتۍ او ککړتیا پاک وساتي."

د بي بي فاطمې (ع) پلار صفت ته حاجت نه لري. داسي پلار خداي خلق عظیم بللی8 او فرمایې " چې دا پیغمبر له خپلې خوښې هیڅ خبره نه کوي او څه چې وایي د خداي وحې ده" 9

بي بي فاطمې (ع) خپل ټول نوراني عمر د داسي لوړ او عظیم پلار په لمن کښې تیر کړو. قابو دوه کلنه وه چې له پلار سره یو ځایې کفارو او قریشو اقتصادي محاصره کړه او درې کاله یې د شعب ابي طالب 10 کښې له خپل پلار او مور او نورو مسلمانانو سره په سختو شرائطو، لوږې او سختۍ کښې تیر کړل.

د بعثت په لسم کال له شعب څخه تر ژغورنې لږه موده وروسته یې ګرانه مور چې ظالمانو او قریشو سره یې په مقابلې کښې او په اقتصادي محاصرې کښې خپل وروستي لس کلونه تیر کړي وو ،چې وفات شوه.که څه هم دا جداي دوي ته ډیره سخته وه. خو تر دې وروسته پلار ته له نزدې او د هغهٔ له پاکه تربیته او مینې خړوبه شوه له هجرته لږه موده پس د پیغمبر (ص) د کورنۍ له نورو ښځو او حضرت علي علیه السلام سره له مکې څخه مدینې ته راغله او بیا له پلار سره یو ځاي شوه. په مدینه کښې د پلار دژوند په سختیو کښې له هغوي سره برابره شریکه وه او د احد په جنګ کښې وروسته له دې چې مسلمانان شاتګ ته مجبوره شول، بي بي فاطمه (ع) له مدینه ووته او د پیغمبر کیمپ ته راغله او له حضرت علي سره یو ځائی یې د پیغمبر (ص) د زخمونو ملهم پټۍ وکړه.11

---

7. سورة احزاب، اية 33
8. سورة قلم اية 4
9. سورة نجم اية 4
10. شعب ابي طالب د مکي په خوا کې یوه دره وه چې پیغمبر(ص) او له هغوې سره اړوند کسان او مسلمانان د اقتصادي کلونو کې هغه ځاي کې مقیم وؤ منتهی الامال ص 63-64
11. صحیح بخاری کتاب بداء الخلق، صحیح مسلم کتاب الجهاد والسیر باب غزوه احد

بي بي فاطمه (ع) د اسلام په کور کښې پيدا شوه، له اسلام سره لويه شوه او ژوند يې له پيغمبره(ص) جدا نهٔ ؤ او هغه مبارک (ص) به تر هر چا زيات د هغې کور ته ورتللو. د پيغمبر(ص) خدمتګار وايي :" کله چې به د خداي رسول(ص) په سفر تلو نو تر ټولو وروسته به يې له بي بي فاطمه (ع) سره خداي پاماني کوله او چې کله به را ستنيدو، تر ټولو مخکښې به د بي بي فاطمه(ع) ديدن ته ورتللو.12 د پيغمبر(ص) د ژوند په وروستيو شيبو کښې هم بي بي فاطمه (ع) د هغه مبارک سر ته ناسته وه او ژړل يې او پلار ورته ډاډ ورکاؤ.13

## د بي بي فاطمې (ع) مور

بي بي فاطمه (ع) د خپل وړوکوالي پنځه کاله د بي بي خديجه(ع) په شان د قدر منې او سر ښيندونکې مور په لمن کښې تير کړل هغه ښځه چې د اسلام لومړۍ مرمن وه او پيغمبر(ص) د هغې په باره کښې فرمايلي دي "خديجه (ع) ددې امت يوه ډيره غوره مرمن ده"

پيغمبر(ص) له بي بي خديجې (ع) سره دومره مينه لرله چې تر څو ژوندۍ وه، ګران رسول(ص) بل وادهٔ ونهٔ کړو د هغې له وفاته وروسته به يې هم ډيره يادوله او د هغې د ملګرو به يې هم ډير احترام کاؤ. تر دې چې که چا به هغهٔ مبارک ته کومه تحفه يوړه نو وبه يې فرمايل " دا تحفه زما پلانکۍ بي بي کره يوسئ ځکه چې هغه د بي بي خديجه (ع) ملګرې وه"

عائشه وايي "پيغمبر(ص) به بي بي خديجه(ع) دومره په ښو يادوله چې يوه ورځ مې پرې اعتراض وکړو چې بي بي خديجه خو يوه بوډۍ ښځه وه او خداي پاک تاته تر هغې ښې بيبيانې نصيب کړي دي پيغمبر(ص) غصه شو او وې فرمايل "په خداي قسم زما نورې بيبيانې تر هغې ښې نهٔ دي ځکه چې خديجې(ع) هغه وخت په ما ايمان راوړو چې نور خلق کافران وؤ او زهٔ يې هغه وخت تصديق کړم چې نورو دروغژن ګڼلم او ماته يې هغه وخت خپل مال راکړو چې نورو له خپلو مالونه محرومه کولم او خداي زما نسل له هغې وګرځولو "14

---

12. کشف الغمه ج 2 ص 13، مسند احمد بن حنبل ج 5 ص 275 صحيح ابوداؤد ج 26 سنن بيهقي ج 1ص26

13. امالی طوسی،ج 2 ص 14-15

14. تذکرة الخواص ص 303 او په لږ فرق سره په کشف الغمه ج2 ص78-79 کې.

دا خبره په تاریخ کښې د یو لویې حقیقت څرګنداوې ده څکه چې د بي بي خدیجه(ع)سر ښیندونو د اسلام په ترقۍ کښې ډیرمهم رول لوبولی دی. ځینې محققان وایې چې اسلام او د پیغمبر(ص) رسالت د حضرت علي علیه السلام په جهاد او د بي بي خدیجې(ع) په پیسو سره ډیره ترقۍ وکړه یعنې خداي پاک دا دوه د پیغمبر(ص) د دین د خپرولو لپاره یوه وسیله وګرځوله **15**

نو مقصد دا چې بي بي فاطمه (ع) د داسي مور او پلار لور وه. بي بي خدیجه د بعثت په لسم کال وفات شوه. او تر هغې وروسته یوازې بي بي فاطمه (ع) وه چې د پیغمبر(ص) کور به یې له مینې ډکولو.

## مدینې ته هجرت

د بي بي خدیجه (ع) د وفات په کال د پیغمبر(ص) تر ټولو ستر ملاتړی حضرت ابوطالب (ع) هم وفات شو.**16** ابو طالب (ع) د پیغمبر(ص) تر ټولو له نزدې او مئینو ملګرو څخه ؤ. او له دې امله چې د قریشو مشر او د مکې له لویانو څخه ؤ نو د خپل نفوذ او رعب په وجه د پیغمبر(ص) او مسلمانانو لپاره تر ټولو لویې ملاتړې او محافظ ګڼل کیدۀ او تر څو چې دی ژوندی ؤ د قریشو کافرانو پیغمبر(ص) ته لاس نۀ شو اوږدولی.[17]

حضرت ابو طالب(ع) په خپل ټول عمر کښې د پیغمبر(ص) له هیڅ ملګرتیا او خدمته کوتاهي ؤ نۀ کړه او د دې لپاره چې د قریشو او کفارو په وړاندې د پیغمبر(ص) لپاره یو بند وې، خپل ایمان یې پټ ساتلو. او داسي به یې ظاهروله چې یوازې د خپلولۍ په وجه د پیغمبر(ص) ملاتړ کوي . د حضرت ابوطالب دا تدبیر او چل ددې سبب شو چې د قریشو کافران هغه د خپل ځانه وګڼي او د هغۀ د احترام په وجه یې پیغمبر(ص) ته څه نۀ شول ویلی. خو افسوس ځنو ناپوهو او لنډ فکرو کسانو د حضرت ابوطالب(ع) په ایمان او اسلام کښې شک کړې او هغۀ ته چې یو با ایمان سړی ؤ د شرک او کفر په شان نا روا نسبتونه ورکړي دي[18]

---

15. بحار ج 16 ص8 ، 13
16. د ځینو راوایاتو له مخې حضرت ابو طالب(ع) له حضرت خدیجه څخه یو میاشت مخکې وفات شوی ؤ (امالي طوسي ج 2ص 79)
17. امالي طوسي ج 2ص 79
18. پکاردي چې پام ولرو چې د حضرت ابوطالب(ع) په حقله داسي نسبتونو زیاتره د معاویه او بني امیه د نورو حکومتونو په وخت رواج وموند او هغوي به حضرت امام علي ابن ابیطالب(ع) د دښمنۍ په وجه داسي دروغونه خپرول

د حضرت ابوطالب(ع) په وفات سره د پیغمبر(ص) کار لا سخت شو او د قریشو زوروني او ازاروني زياتې شوې. تر دې چې په يو شيطاني پلان سره يې د مکې بيلا بيلو قبيلو يو يو کس وټاکهٔ چې د شپې پيغمبر(ص) شهيد کړي او د پيغمبر(ص) خپلوان او قبيله له دومره ډيرو قبيلو انتقام وانهٔ خستی شي. تر دې وروسته د هجرت قيصه پيښه شوه او پيغمبر(ص) هجرت وکړو. پيغمبر(ص) 12 ورځې پس د مدينې يو کلي قبا ته ورسيدو او هلته پاتې شو چې حضرت علي عليه السلام ورسره يو ځايې شي. حضرت علي عليه السلام د امانتونو له رسولو څو ورځې وروسته له هغوي سره يو ځايې شو.

## د بي بي فاطمه (ع) اسماني شخصيت

د نړې له بيبيانو د بي بي فاطمه (ع) اسماني شخصيت ډير لوړ دی. هغه بي بي فاطمه (ع) چې په معصومينو کښې شمير ده[19] او د هغې او کورنۍ محبت او ولايت له ديني فرضونو څخه دي [20]. او داسي بي بي چې غصه کول او خفه کول يې د خداي پاک غصه او خفگان گڼل کيږي[21] نو راځې چې د معصومينو له خلې د هغې د صفاتو ځنې برخې درته بيان کړم:

1. پيغمبر(ص) فرمايلي دي چې د خداي په حکم سره يوه فرښته نازله شوه او ماته يې زيري راکړو چې حسن او حسين د جنت د ځوانانو سرداران او بي بي فاطمه (ع) د جنت د ښځو سرداره ده.[22]
2. گران رسول فرماي چې د نړۍ تر ټول غوره مرمنې څلور دي. د عمران لور مريم، د خويلد لورخديجه، د حضرت محمد لور بي بي فاطمه(ع) او د فرعون ښځه اسيه بي بي.[23]
3. بيا هم گران رسول (ص) فرمايي چې جنت د څلورو بيبيانو مشتاق دی د عمران د لور مريم، د فرعون د ښځې اسيې، په دنيا او إخرت کښې د پيغمبر(ص) د ماندينې بي بي خديجې او بي بي فاطمه (ع)[24]

19. صحيح بخاري کتاب الاستيزان ، صحيح مسلم کتاب فضايل صحابه باب فضايل فاطمه
20. امالی مفيد ص 27-37
21. مستدرک الصحيحين ج 3، ص 153، کنزالعمال ج 7 ص 111 و 119
22. صحيح ترمزی ج2 ص 306 ، مستدرک الصحيحين ج 3، ص 151 ، مسند احمد بن حنبل ج 5 ص391
23. مناقب ج 3، ص190
24. کشف الغمه ج 2 ص 23

4. همداراز فرمايي چې خداي پاک د فاطمې(ع) په غصې غصه کيږي او د هغې په رضا راضي کيږي.
5. امام موسی بن جعفر عليه السلام فرمايي د خداي رسول(ص) فرمايلي دي چې خداي پاک څلور ښځې غوره کړې. مريم، اسيه، خديجه، او فاطمه سلام الله عليهن.[25]
6. امام رضا عليه السلام د خداي له رسوله نقلوي چې وې فرمايل حسن عليه السلام او حسين عليه السلام او د دوي پلار تر ما وروسته په زمکه کښې تر ټولو غوره کسان دي. او مور يې د زمکې تر ټولو غوره ښځه ده.
7. په صحيح بخاري او صحيح مسلم کښې چې د اهل سنتو تر ټولو معتبر کتابونه دي راغلي دي چې پيغمبر(ص) و فرمايل بي بي فاطمه (ع) د جنت د ښځو سرداره ده يعني د ټولو ښځو سرداره ده[26]
8. له پيغمبر(ص) پوښتنه وشوه ای د خداي رسوله (ص) ايا فاطمه د خپلې زمانې د ښځو سرداره ده دوي وفرمايل" نه دا يوازې د عمران د لور بي بي مريم په حقله راغلي دي، خو زما لور له اوله واخلې تر اخره پورې دنړۍ د ټولو ښځو سرداره ده.
9. امام علی بن موسی الرضا عليه السلام له حضرت امام علی عليه السلام روايت کړی دی. چې پيغمبر(ص) وفرمايل چې د قيامت په ورځ به منادي اواز وکړي چې ای مخلوقه! سترګې پټې کړئ چې فاطمه له لارې تيره شي"
10. ابو ايوب انصاري هم دا حديث نقل کړی او وايې چې بي بي فاطمه (ع) به په داسي حال کښې په لاره تيريږي چې د جنت 70000 حورې به يې ملګرې وي.
11. پيغمبر(ص) بي بي فاطمه (ع) ته وفرمايل چې ای فاطمه (ع) ! خداي پاک په زمکه کښې ستا ميړۀ انتخات کړو او ماته يې وحي وکړه چې تا هغۀ ته وادۀ کړم. خداي پاک ستا د عزت او کرامت په وجه تۀ داسې کس ته وادۀ کړې چې له ټولو مسلمانانو مخکښې يې ايمان راوړی دی. حلم او زغم يې ډير او علم يې زيات دی27
12. سفين بن عينيه وائی امام صادق عليه السلام د "مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيَانِ" يعنې دوه دريابونه يې روان کړل چې له يو بل سره يو ځايې شي" په تفسير کښې وفرمايل د دوو سيندونو نه مطلب

25. بحار ج 43 ص 19
26. مناقب ج 3، ص 116 په دې حقله په حواله نمبر 23 کې د نورو کتابونو ذکر شوی دی
27. بحار ج 43 ص 97-98، کنزالعمال ج 6 ص 153

علي او فاطمه دي. " و يُخرِجْ مِنهمَا اللُؤلؤ وَالمَرجَان" يعنې له دغو دوو څخه بيا لولو او مرجان راوباسي، نه مطلب امام حسن او امام حسين دي.28

13. له امام صادقه پوښتنه وشوه ولې بي بي فاطمه (ع) ته زهرا يعنې ځلانده ويل کيږي ؟ وي فرمايل ځکه چې کله به په مانځۀ ودريده نور به يې د اسمان والو لپاره ځليدو لکه څنګه چې زمکې والو ته ستوري ځليږي29

14. په روايت کښې راغلي دي چې کله به بي بي فاطمه(ع) عبادت او مونځ کولو او کوم بچی به يې په ژړا شو نو فرينښتې به د هغۀ زانګو زنګوله.30

## له فاطمې(ع) سره د پيغمبر(ص) د مينې ځينې نمونې او احترام

له بي بي فاطمه (ع) سره د پيغمبر(ص) مينه دومره زياته وه چې دا چاره د پيغمبر(ص) د ژوند له حيرانتياوو ګنلی شوه او که دې خبرې ته ځير پام وکړو چې ګران رسول (ص) د خداي په نزد تر ټولو نزدې او لوړ انسان ؤ او په ټولو چارو کښې د حقو معيار او د عدل او اعتدال ميزان او پارسنګ ؤ او د هغۀ هره وينا او کړچار د سنت درجه لری ځکه چې خداي تعالی فرماي:

"وَ مَا يَنْطِقْ عَنِ الهَوی انْ هْوَ الا وَحْيٌ يْوحی" يعنې پيغمبر(ص) له خپلې خوښې او نفسه هيڅ خبره نۀ کوي بلکې هر څه چې وايې له وحي څخه وي. نو د بي بي فاطمه (ع) په معنوي فضيلت به لا ښه پوه شو.

د پيغمبر(ص) نورې لوڼه هم وې او که څه هم ګران رسول(ص) له خپلې کورنۍ او حتی پرديو سره مينه لرله خوله بي بي فاطمه (ع) سره د هغوي مينه ځانګړې او جدا وه او په اکثرو ځايونو کښې به يې دا مينه څرګنده اعلانوله. او دا پخپله يو دليل دی چې د بي بي فاطمه (ع) او د هغې د کورنۍ ژوند د اسلام له برخليک څخه نۀ جدا کيدونکی دی اوله بي بي فاطمه(ع) سره پيغمبر(ص) رابطه يوازې د پلار او لور رابطه نۀ وه بلکې دا خبره د يوې ټولنې له حياتي مسئلو، د يو امت له راتلونکی او د مسلمانانو د رهبرۍ او امامت په حقله د خداي له اوامرو سره کاملا تعلق لري.

1. پيغمبر(ص) به چې کله په سفر تللو نو تر ټولو وروسته به يې له بي بي فاطمه (ع) سره خداي پاماني کوله او چې له سفره به راستنيدو نو لومړی به د بي بي فاطمه (ع) کور ته تللو .

---

28. بحار ج 43 ص 32، مناقب ج 3 ص 101
29. علل الشرائع ص 173، بحار ج 43 ص 12، معاني الاخبارص 64
30. بحار ج 43 ص 45, مناقب ج3، ص 116

2. امام باقر علیه السلام او امام صادق علیه السلام فرمائي چې پیغمبر(ص) به تل تر ځملاستو مخکښې بي بي فاطمه (ع) ښکلوله، خپل مخ به یې د هغې په سینه کیښودلو او دعا به یې ورته کوله .

3. پیغمبر(ص) فرمایي چې فاطمه زما د وجود ټوټه ده، چا چې دا خوشحاله کړه زۀ یې خوشحاله کړم او چا چې دا خفه کړه زۀ یې خفه کړی یم او د فاطمه(ع) په ټولو خلقو کښې ماته ګرانه ده.

4. همداراز فرمایې دا زما د وجود ټوټه، زما زړه او په بدن کښې زما روح دی چا چې دا ازار کړه زه یې ازار کړی یم،31دا حدیث بخاري هم نقل کړی دی. جابر دا روایت داسي نقل کړی دی." نو چا چې دا ازار کړه، زۀ یې اذیت کړی یم او چا چې زۀ وزورلم خداي یې وزوروۀ" او دا حدیث په صحیح مسلم او د اهل سنتو په ډیرو کتابونو کښې راغلی دی.

5. پیغمبر(ص) وفرمایل چې زما لور د جنت د ټولو ښځو سرداره ده. هغه زما د وجود ټوټه، زما د سترګو یخوالی، زما د زړۀ میوه او زما په بدن کښې روح دی او زما نه پیدا شوې د انسان په شکل کښې یوه حوره ده"32

د بي بي عایشه نه روایت دی چې فاطمه (ع) به کله هم ګران رسول(ص) ته ورغله هغه مبارک به ورته پاڅیدۀ د بي بي فاطمه (ع) سر به یې ښکلولو او هغه به یې په خپل ځاې کښینوله. او کله به چې پیغمبر(ص) د فاطمې(ع) کتني ته ورتللو نو یو بل به یې ښکلول او له یو بل سره به کښیناستل.55

## اسماني وادۀ

د هجرت په دویم کال پیغمبر(ص) بي بي فاطمه (ع) حضرت علی علیه السلام ته وادۀ کړه33 او دا دواړه ددې وادۀ لائق وۀ لکه څنګه چې امامان فرمایې:" له علی پرته بل سړی د بي بي فاطمه (ع) لپاره خاوند او د هغې هم څنګ او برابر نۀ شو کیدی"34

---

31. صحیح بخاري کتاب بداء الخلق باب مناقب قرابة رسول الله و منقبه فاطمه علیها السلام ، مسند احمد بن حنبل ج 4 ص 328 ، صحیح مسلم کتاب فضایل الصحابه
32. صحیح بخاري کتاب بداء الخلق باب مناقب قرابة رسول الله و منقبه فاطمه علیها السلام ، مسند احمد بن حنبل ج 4 ص 328 ، صحیح مسلم کتاب فضایل الصحابه
55. بحار ج 43ص 40، صحیح ترمذي ج2 ص 319، صحیح ابو داؤد ج33 باب ما جاء فی القیام
33. صحیح ترمذي ج 2 ص 319

ددې وادهٔ ځینې خصوصیات چې ددې د درجې د لوړاوي ښودنه کوي دا دي چې پیغمبر(ص) د عربو او قریشو د ډېرو مشرانو او لویانو غوښتنه رد کړه او وي فرمایل چې د بي بي فاطمه (ع) وادهٔ د خداي په حکم پورې تړلی دی. او بالاخره چې حضرت علی علیه السلام غوښتنې ته ورغلی نو پیغمبر(ص) یې غوښتنه ومنله او وې فرمایل چې همدا اوس اوس فرښته نازله شوې وه او د خداي یې حکم راوړو چې فاطمه(ع) علی علیه السلام ته وادهٔ کړه.[35]

له علی یې وپوښتل د وادهٔ د خرچې لپاره څهٔ لرې؟ علی وویل چې یوازې یوه توره، یوه زغره او یو اوښ چې اوبهٔ پرې راوباسم او راوړم، نور څه راسره نشته. پیغمبر(ص) ورته وفرمایل چې زغره خرڅه کړه او د هغې په پیسو چې قابو پنځه سوه درهمه کیدې د بي بي فاطمه (ع) لپاره ساده غوندې جهیز او سامان برابر کړه.

ددې نوراني او اسماني وادهٔ هره ګوښه او پهلو د پیغمبر(ص) د منوونکو لپاره نبوت او امامت ته د خداي پاک و خاص عنایت او پام ښودنه کوي او مونږ ته دا سبق راکوي چې په وادهٔ کښې فضول خرچونه او پیسې لګول نهٔ دې پکار. بلکه ساده والی ضروري دی او له ډېرو جهیزونو او خرڅونو باید ځان وساتل شي. ددې نوراني وادهٔ ځینې اړخونه دا دي:

1. کله چې حضرت امام علی علیه السلام د فاطمې(ع) غوښتنې ته راغی پیغمبر(ص) وفرمایل تر تا مخکښې نورو خلقو هم د فاطمې(ع) غوښتنه کړې ده د هر یو په حقله مې له فاطمې(ع) پوښتنه وکړه خو هغې د ناخوښۍ او خفګان څرکندونه کړې ده نو اوس ته کښینه چې زهٔ ترې ستا په حقله هم تپوس وکړم. هله بي بي فاطمه (ع) ته ورغی او د علی علیه السلام د غوښتنې یې خبر کړه، بي بي فاطمه (ع) نه خفه شوه او نهٔ یې مخ واړولو. پیغمبر(ص) پاڅید او وې فرمایل الله اکبر د فاطمې(ع) چپتیا د خوښۍ نخښه ده.[36]
2. د علی علیه السلام او فاطمې(ع) د وادهٔ مهر یوه زغره وه چې خرڅه شوه او د هغې په ځینو پیسو دا جهیز برابر کړی شو یو قمیص، یوه لویه لوپټه، یوه خیبري توره، تولیه، د رسیو یو کټ، دوه تولیانې چې یوه د ګڼو د وړیاو بله د کجورو د پوستکو وه، څلور بالښتونه، یوه پشمې پرده، یوه درۍ او بورۍ، یوه لاس میچنه، یوه د پیسو (میسو) مجمه، یو د څرمنې لوښی، د اوبو یو مشک، د پیو یوه کاسه، یوه لوټه یا کوزه، یو شین جام او څو خاورینې کوزې یا صراحۍ. علی هم د وادهٔ لپاره خپل کور په دې طریقې تیار کړو. په کور کښې یې نرمې

---

34. كشف الغمه ج1ص477-495 ، مناقب ج 2 ص 30-31
35. بحار ج 43 ص 124-127، كشف الغمه ج 1 ص 480
36. بحار ج 43 ص 93-112،111 امالي طوسي ج1 ص 38

شګې یا ریګ واچول د کور د دوو دیوالونو په مینځ کښې یو لرګی ښخ کړو چې جامې پرې ځوړندوي او د ګډې یوه څرمنه او د کجورو د پوستکو یوه متکا یا تکیه یې تیاره کړه.[37]

## د بي بي فاطمه (س) اخلاق او د ژوند څو ګوښې

### زهد او پرهیزګاري:

له امام صادق علیه السلام او جابر انصاری نقل شوي دي چې پیغمبر(ص) بي بي فاطمه (ع) ولیدله چې شبرې او ډیلې جامې یې اغوستې دي، په لاسو سره میچنه تاوهي او سره له دې بچې ته یې هم ورکوي، د پیغمبر(ص) په سترګو کښې اوښکې راغلې او وې فرمایل زما ګرانې لورې د اخرت د شیرینۍ او خوږوالي لپاره د دنیا سختۍ وزغمه عرض یې وکړو ای د خداي رسوله(ص) د خداي د نعمتونو شکر کوم او خداي پاک دا ایت نازل کړو:

وَ لَسَوْفَ يُعْطِيکَ رَبُّکَ فَتَرْضَی[38] خداي پاک به تاله ډېر زر درکړي چې راضي او خوشحاله شې.

### په کور کښې کار:

امام صادق علیه السلام فرمایې چې علی علیه السلام به اوبهٔ او خشاک راوړلو او بي بي فاطمه (ع) به اوړهٔ وړول، اغږل به یې، ډوډۍ به یې پخوله او جامې به یې ګنډلې. حضرت علی علیه السلام فرماي فاطمې(ع) بي بي په مشک کښې دومره اوبهٔ راوچلولې چې په سینه یې اثر وکړو او په سینه کښې یې درد پیدا شو. په خپلو لاسو یې میچن دومره وچلولو چې لاسونه یې پولۍ شول، د کور د صفایۍ په وجه یې جامې له دوړو ډکې او دومره اورونه یې د پخلي لپاره بل کړل چې جامې یې لوغړنې شوې.

یوه ورځ د خداي رسول (ص) د فاطمې(ع) کور ته ورغی او وې لیدل چې بي بي فاطمه (ع) د میچنې په چلولو مشغوله ده . پیغمبر(ص) وفرمایل: په تاسو کښې کوم یو ډېر ستړی دی. علی علیه السلام وفرمایل: "فاطمه(ع)" پیغمبر(ص) فاطمې(ع) ته ورغی او ورته یې وویل پاڅه . بي بي فاطمه (ع) پاڅیده او پیغمبر(ص) د هغې په ځاې کښیناست او له علي علیه السلام سره یې د دانو په اوړهٔ کولو کښې مرسته وکړه.

37. بحار ج 43 ص 114، مناقب جم 3 ص 129

38. سورة ضحی ایة 5 ( تفسیر در منثور ) کنزالعمال ج 6ص295

امیر المؤمنین حضرت علی علیه السلام فرمای په خدای قسم له فاطمې(ع) سره په ټول ژوند کښې مې هیڅ کله هغه خفه نه کړه او نه مې کوم کار ته مجبوره کړه او هغې هم زه خفه نۀ کړم او زما نافرماني یې و نۀ کړه. او چې کله به مې هغې ته کتل نو غمونه او دردونه به مې ختمیدل.**39** بي بي عائشه فرمایي د پیغمبر(ص) نه علاوه تر فاطمې(ع) زیاته رښتونې ښځه ما نه ده لیدلې.**40**

حسن بصري وایي په دنیا کښې له فاطمې(ع) زیاته عبادت کوونکې ښځه نۀ ده راغلې هغې دومره عبادت کوۀ چې پښې به یې و پړسیدې.**41**

امام حسن مجتبی علیه السلام فرمایي مور بي بي فاطمه (ع) به مې لیدله چې د جمعې په شپه به عبادت ته پاڅیده، له ماښامه تر سهاره به یې رکوع او سجدې کولې او د مؤمنانو سړو ښځو لپاره به یې دعا کوله. د هر کس نوم به یې اخستو او دعا به یې ورته کوله ما ورته وویل مورې لکه څنګه چې نورو ته دعا کوې خپل ځان ته ولې نۀ کوې؟ هغې وفرمایل ځویه لومړۍ ګاونډیان بیا ځان.**42**

## حجاب، پړده او له پردیو سړو حیا:

امام موسی بن جعفر فرمایي چې حضرت علی علیه السلام وفرمایل یو نابینا او ړوند سړی د بي بي فاطمه (ع) کور ته ورغی بي بي ځان په چادر کښې پټ کړو . پیغمبر(ص) ترې پوښتنه وکړه. چې ولې دومره پړده کوې، دی خو تا نۀویني؟ بي بي وفرمایل که ما نۀ ویني نو زۀ خو یې وینم .او بله دا چې پوزه او د بویولو حس خو یې روغ دی او عطر بویولی شي"

رسول(ص) وفرمایل ګواهې ورکوم چې ته زما د وجود ټوټه یې**43** له بي بي فاطمه (ع) پوښتنه وشوه چې د ښځو لپاره څۀ څیز تر ټولو غوره دی. هغې وفرمایل د ښځو لپاره تر ټولو ښه دا ده چې سړي ونۀ ګوري او سړي هم هغوي ونۀ ګوري.

## له خدمتګارۍ سره د کور د کار ویشل:

سلمان فارسي وایي بي بي فاطمه (ع) ناسته وه او میچن یې چلوله او د لاسونو د زخمونو په وجه د میچنې دسته هم د وینو وه. امام حسین علیه السلام چې هغه وخت یو وړوکی ماشوم ؤ، د کور په یو کونج کښې له لوږې ژاړل. ما عرض وکړو ای د خدای د رسول (ص) لورې! لاسونه دی ولې زخمي

39. بحار ج 43 ص 134 ، کشف الغمه ج 1 ص 492 ، بیت الاحزان ص37
40. بحار ج 43 ص134، مستدرک الصحیحین ج 3 ص 160
41. بحار ج 43 ص84 ، مناقب ج 3 ص 119
42. بحار ج 43 ص 81و 82
43. بحار ج 43 ص 91 1

کړي دي. فضه هم شته دې ته پريږده چې ميچن وچلوي. بي بي فاطمه (ع) وويل د خدا ي رسول (ص) ماته فرمايلې دي چې پکار ده يوه ورځ زۀ په خپله د کور کار کوم او يوه ورځ فضه. او ددی نمبر پرون تير شو.**44**

## له کاليو او سنګاره ځان ساتل:

امام سجاد عليه السلام فرمايي چې اسماء بنت عميس راته قيصه وکړه چې يوه ورځ ستا له نيا (بي بي فاطمه (ع) ) سره ناسته وُم چې ګران رسول (ص) راننوت. بي بي د سرو زرو يو اميل په غاړه کړی وُ چې حضرت علی عليه السلام ورله د خپلې برخې د غنيمت له ماله اخستی وُ. پيغمبر(ص) وفرمايل ای ګرانی لورې! خلق ونۀ وايي چې د محمد لور د جبارانو او لويانو کالي اغوندي." بي بي فاطمه (ع) هغه اميل مات کړو، خرڅ يې کړو او په هغې يې يو غلام واخست او بيا يې ازاد کړو. د خداي رسول (ص) له دې کاره ډير خوشحاله شو.**45**

پيغمبر(ص) د بي بي فاطمه (ع) د وادۀ لپاره يو قميص واخستو ځکه چې د بي بي فاطمه (ع) په خپل قميص کښې پيوندونه لګيدلي وُ. په دغه وخت يو فقير راغی او وې ويل چې ماته يو زوړ قميص را کړئ بي بي فاطمه (ع) وغوښتل چې خپل زوړ قميص ورته ورکړې خو را ياد يې شو چې خداي پاک په قران کښې فرمايي: لَنۡ تَنَالوا البِرَ حَتی تُنفقوا مما تحبون (تر هغه پورې يو څيز نيکی ته نۀ رسي چې هغه شی نورو ته ورنۀ کړې چې پخپله دې خوښ وي) يعني پکار دی چې د خپلې خوښې څيز نورو ته ورکړې. له همدې امله يې خپل نوی قميص فقير ته ورکړو.**46**

## لوږه او اسماني ډوډۍ

ابو سعيد خدري وايي يوه ورځ حضرت علی عليه السلام سخت وږی وُ . بي بي فاطمه (ع) ته يې وويل ډوډۍ شته چې راېې کړې؟ بي بي فاطمه (ع): " نه په خداي قسم هيڅ نشته. هغه لږه غوندې ډوډۍ وه چې تاسو ته مې درکړه" حضرت علی عليه السلام وي ولې دې زۀ خبر نه کړم چې څه درته تيار کړم . بي بي وويل زۀ له خدايه شرميږم چې دا سې څيز له تا وغواړم چې په وس کښې دې نه وي حضرت علی عليه السلام په اعتماد او د خداي توکل سره راووت او يو دينار يې قرض کړو. دينار يې لا په لاس کښې وُ چې مقداد بن الاسود ورته مخې ته ورغی. د سختې ګرمۍ ورځې وې او نمر ډير تود او

---

44. بحار ج 43 ص81
45. بحار ج 43 ص 81, عيون الاخبار ج2 ص 45
46. رياحين الشريعه ج1 ص 106

سوزونکي ؤ. حضرت علی علیه السلام چې په دې سختې ګرمۍ کښې د هغهٔ بد حالت ولیدهٔ نو تپوس یې ترې وکړو چې ولې په دې تودوخې کښې سرګردانه یې؟ مقداد وویل پریږده زما حال ما پوښته، علی علیه السلام وویل امکان نه لري چې خبر شم؟ مقداد بیا وویل پریږده مولا تپوس مې مهٔ کوه. چې کله علی علیه السلام ډیر تینګار وکړو نو وویل په خداي قسم زهٔ ده لوږې د لاسه له کور راوتلی یم.بچو مې کور کښې له لوږې ژړل. ما دا منظر ونه لیدې شو نو راووتم چې څهٔ چاره وکړم. د علی په سترګو کښې اوښکې راغلې او وویل په هغه چا قسم چې تا پرې قسم وخوړو زهٔ هم د لوږې له لاسه له کوره راوتلی یم او دا دی یو دینار مې قرض کړی دی خو تا پخپل ځان مقدم او مخکښې ګڼم او دا وینار تا ته درکوم .دینار یې هغهٔ ته ورکړو او په خپله جمات ته لاړ او د ماسپښین مازیګر او ماښام مونځ یې په جمات کښې په پیغمبر(ص) پسې وکړو. پیغمبر(ص) ورځخه تر مانځه وروسته تپوس وکړو چې د ماښام د ډوډۍ لپاره څه شته که نه چې زه هم درشم؟ حضرت علی علیه السلام سر ټیټ کړو او حیران ؤ چې څه ځواب ورکړي. پیغمبر(ص) د هغهٔ د لوږې او د دینار له قیصې خبر ؤ او خداي ورته وحي کړې وه چې نن ماښام به ډوډۍ له حضرت علی علیه السلام کره خوري. چې کله علی(ع) غلی پاتې شو او ځواب یې ورنهٔ کړو نو پیغمبر(ص) وفرمایل یا ووایه نه چې لاړ شم او یا ووایه هو چې له تا سره درشم. حضرت علی(ع) د حیا او د پیغمبر(ص) د احترام په وجه وویل بسم الله راځئ چې ځو. پیغمبر(ص) له علی سره کور ته ورغی بي بي فاطمه (ع) مونځ خلاص کړی ؤ خو لا په مصلی ناسته وه او شا ته یې یو دیګچې پروت ؤ چې خوړ براس او بوی ترې ختو . بي بي چې کله د پیغمبر(ص) اواز واوریدهٔ، پاڅیده او هغوي ته یې په خیر راغلې وویل. پیغمبر(ص) یې په سر لاس راکښو او وې فرمایل ګرانې لورې څنګه دې ورځ تیره کړه. خداي درباندې رحمت وکړه زر زر ډوډۍ راواچوه، ورېې یو فاطمې(ع) بي بي دیګچې راواخستو او د پیغمبر(ص) او علی مخې ته یې کیښود. حضرت علی چې ډوډۍ ته وکتل او د هغې خوړ بوي پرې ولګیدهٔ نو بي بي ته یې په غصې سره سترګې وغړولې. فاطمې(ع) وویل سبحان الله! څومره په غصې راته ګورې، تهٔ به وی لګه چې ما څه غلطي کړې وي؟ علی ورته وویل د دې نا بله لویه غلطې کومه ده چې تا ویل دوه ورځې وشوې چې ډوډۍ نشته . بي بي اسمان ته وکتل او وې ویل خداي خبر دی چې ما رښتیا ویلي دي.

حضرت علی ورته وویل نو دا ډوډۍ له کومې راغلې ده؟ داسې ډوډۍ خو ما تر اوسه نهٔ لیدلې او نهٔ خوړلې وه.

د خداي رسول (ص) د علی علیه السلام په اوږه لاس کیښود او وې فرمایل ای علی دا د خداي لخوا ستا د دینار بدله ده. اِنَ اللهَ یَرزق مَنْ یَشَاءُ بِغَیْرِ حِسَاب (خداي چې چاته وغواړي بې حسابه

روزي ورکوي)**47** بيا پيغمبر(ص) له ډېر شوق او شکره وژړل او وې فرمايل ثنا د هغه خداي ده چې تاسو ته يې له مرګه مخکښې بدله درکړه او ای علی ته يې د ذکريا او بي بي فاطمه (ع) يې د عمران د لور مريم په شان وګرزولي: كُلما دَخَلَ عَلَيهَا ذَكَرِيَا المِحْرَابَ وَجَدَ عِنْدَها رِزْقاً[48]( يعني کله به چې ذکريا د بي بي مريم د عبادت محراب ته ورتللو نو له هغې سره به يې طعام(ډوډۍ) ليدله.**49**

## حاجتمن ته بخشش او برکتي اميل

جابر بن عبد الله انصارې واي يوه ورځ پيغمبر(ص) د مازيګر مونځ زمونږ سره يو ځاي وکړو. چې کله له نمانځه فارغ شو نو يو غريب مهاجر عرب چې ډېرې زړې او شليدلې جامې يې اغوستې وې، پيغمبر(ص) ته ورغی. د خداي رسول (ص) ورځينې د حال احوال پوښتنه وکړه. عرض يې وکړو ای د خداي رسوله (ص) وږی يم ماته ډوډۍ راکړه. بدن مې لغړ دی، جامې هم راته راکړه او له ما سره احسان او نيکي وکړه. پيغمبر(ص) وفرمايل له ماسره خو څۀ نشته چې درېې کړم خو ښو ستا راهنمايې هم د ښيګړې په شان ده. نو تۀ د هغه چا کور ته لاړ شه چې خداي او رسول (ص) ورسره مينه لري او هغه هم د خداي او رسول (ص) سره مينه لري او د هغۀ په لاره کښې سر ښيندنه کوي، د فاطمې(ع) کور ته لاړ شه بيا يې بلال ته وويل چې دی د فاطمې(ع) کره بوځه.

بوډا سړی له بلال سره د بي بي فاطمه (ع) کور ته ورغی او په دروازه کښې يې اواز وکړو سلام دې وې په تاسو ای د نبوت او ای د فرښتګانو او جبرايېل د نازليدو کورنۍ.بي بي فاطمه (ع) ورته د سلام ځواب ورکړو او وې ويل تۀ څوک يې؟ عرض يې وکړو يو بوډا اعرابي يم چې د سختۍ او کړاوونو په وجه مې هجرت کړی دی. ستا قدرمن پلار ته ورغلم هغۀ تاته راوليږلم نو اوس په ما احسان وکړه چې خداي درباندې رحمت نازل کړي.

فاطمې(ع)، على عليه السلام او د خداي رسول (ص) درې ورځې ډوډۍ نۀ وه خوړلې او پيغمبر(ص) د دوي په حال خبر ؤ. بي بي فاطمې(ع) د ګډې کوټلې شوې څرمن چې حسن او حسين عليهما السلام به پرې څملاستل،هغه ته ورکړه او وې ويل چې خداي دې درله تر دې ښه درکړي.

اعرابي وويل ای د محمد(ص) لورې! ما تا ته د خپلې لوږې ګيله وکړه او تۀ ماته د ګډې څرمن راکوې. زۀ په دې ناره خيټه په دې څۀ وکړم؟ فاطمې(ع) بي بي چې دا واوريدله نو خپل اميل يې چې د

47. سورة ال عمران اية 37 ، قصص الانبياء ثعلبي ص 513 تفسير درمنثور
48. سورة ال عمران اية 37 ، قصص الانبياء ثعلبي ص 513 تفسير درمنثور
49. بحار ج 43ص59-61

حمزه بن عبدالمطلب لور ورته هديه کړی ؤ اعرابي ته ورکړو او وې ويل دا واخله او خرڅ يې کړه، اميد دی چې خداي به درته د دې په ځاي څه څيز درکړي.

اعرابي اميل واخستو او جمات ته راغی. پيغمبر(ص) د خپلو يارانو په منځ کې ناست ؤ. اعرابي وويل ای د خداي رسوله(ص) بي بي دا اميل راکړو او وې ويل چې ځانته يې خرڅ کړه. خداي به دې کار برابر کړي.

د پيغمبر(ص) په سترګو کې اوښکې راغلې او وې فرمايل: انشاءالله کار په دې برابر شي ځکه چې د نړې د ټولو ميرمنو سردارې درته دا اميل درکړی دی.

عمار ياسر پاڅيدو او عرض يې وکړ ای د خداي رسوله(ص) اجازت را کوې چې دا اميل زۀ واخلم. وې فرمايل: "هو"عمار وويل ای اعرابي دا په څو خرڅوې؟ وي ويل په دومره ډوډۍ چې زۀ پرې موړ شم. په يو نيم چادر چې زۀ پکې خداي ته مونځ وکړم او يو دينار چې ما کورته ورسوي"

عمار ياسر د خيبر د غنيمت خپله برخه خرڅه کړې وه او څه ورسره نه وؤ. بيا يې هم وويل ددې اميل په مقابل کې درته شل ديناره دوه سوه درهمه يو يمني څادر او خپل اوښ درکوم چې هم کور ته ورسې او په ډوډۍ موړ شې. اعرابي له عمار ياسر سره لاړو او هغه ورته دا ټول څيزونه ورکړل. اعرابي پيغمبر(ص) ته راستون شو او پيغمبر(ص) ته يې وويل چې موړ او بې نيازه شوم. د خداي رسول(ص) ورته وفرمايل نو اوس فاطمې(ع) ته ددې احسان په وجه دعا وکړه اعرابي وويل ای خدايه! تۀ تل زمونږ خداي يې، مونږ ستا عبادت کوؤ او ته زمونږ رازق يې بي بي فاطمه (ع) ته هغۀ څيز ورکړه چې سترګو نه دی ليدلی او غوږونو نۀ دی اوريدلی پيغمبر(ص) د هغۀ په دعا امين ووې او وې فرمايل خداي پاک بي بي فاطمه (ع) ته همداسې څيز عطا کړی دی ځکه چې زۀ يې پلار يم چې هيڅوک زما په شان نشته، او علی عليه السلام يې خاوند دی که امام علی نۀ وی نو بل چوک د هغې د برابرۍ لائق نۀ وو او خداي پاک بي بي فاطمه (ع) ته حسن او حسين ورکړي دي چې د پيغمبر(ص) لمسي او د جنت د ځوانانو سرداران دي.

له پيغمبر(ص) سره سلمان ،عمار او مقداد ناست وؤ پيغمبر(ص) ورته وفرمايل تاسو ته د فاطمې (ع) نور صفت ووايم ، هغوې وويل چې هو. پيغمبر(ص) ورته بيا د بي بي فاطمه (ع) فضيلتونه او صفتونه بيان کړل. عمار هغه اميل په مشکو سره خوشبوناک کړو په يمني کپړې کې يې بند کړو او خپل "سهم" نومې غلام ته يې ورکړو چې دا د خداي رسول ته ورکړه او ته هم د هغوې شوې. مريې اميل واخستو او پيغمبر(ص) ته يې يوړو او د عمار خبره يې هم ورته ورسوله، پيغمبر(ص) وفرمايل فاطمې(ع) ته لاړ شه اميل هم ورته ورکړه او تۀ هم د هغې شوې. بي بي فاطمه (ع) اميل واخستو او غلام يې ازاد کړو . غلام وخندل بي بي ترې تپوس وکړو چې ولې خاندې؟ دې اميل په برکت راله خندا راځي چې يو اوږی يې

موړ کړو، لغړ ته يې جامې ورکړې، فقير يې بې نيازه مريه يې ازاد کړو او اميل هم پخپله خپلې مالکې ته ستون شو.50

## د جنت جامې او له بي بي فاطمه (ع) سره د فرښتو مرسته

يو ځل د ځينو يهوديانو په کور کې وادۀ ؤ، پيغمبر(ص) کره ورغلل او وې ويل مونږ د ګاونډيتوب حق لرو او له تاسو غواړو چې خپله لور بي بي فاطمه (ع) مونږ کره راوليږئ چې دوي سره زمونږ وارۀ ښکلې شي. دوي په دې خبرې ټينګار هم وکړو .

پيغمبر(ص) وفرمايل دا د على عليه السلام مانديـنه ده او تاسو د هغې د تللو اجازت له هغه وغواړئ، هغوي له پيغمبره(ص) وغوښتل چې له علي عليه السلام څخه ددې بلنې سفارش وکړي.

يهوديانو په دې وادۀ کې هر ډول سامان برابر کړی ؤ او ګمان يې کاؤ چې بي بي فاطمه (ع) به په زړو او ورستو جامو کې په واده کې ګډون وکړي او په دې طريقه به يې لږه خجله او کچه کړو. د خداي فرښتې جبراييل عليه السلام له جنته جامې راوړې چې دومره ښکلې وې چې تر اوسه چا نۀ وې ليدلې. بي بي فاطمې(ع) هغه واچولې او کتونکي د هغو جامو په رنګ او بوی حيران دريان شول او چې کله بي بي فاطمه (ع) يهوديانو کره ورغله نو يهودنې ښځې يې په احترام کې په سجدې پريوتې او ډيرې يهودنې د اسلام د دې معجزې په وجه مسلمانې شوې.

ابو ذر وايي يوه ورځ پيغمبر(ص) زه وليږلم چې على عليه السلام ته اواز وکړم . د على کور ته راغلم او اواز مې وکړو خو چا ځواب را نۀ کړو په کور کې ميچنه پخپله تاويده او ځوک ورسره په خوا کې نۀ وؤ. بيا مې حضرت على عليه السلام ته اواز وکړو هغه بهر راووت او پيغمبر(ص) ورسره خبرې وکړې چې زۀ پرې پوه نۀ شوم بيا مې د خداي له رسوله(ص) پوښتنه وکړه چې دا ميچنه څنګه تاويده؟ پيغمبر(ص) وفرمايل خداي پاک د بي بي فاطمې(ع) زړه او غړي له ايمانه ډک کړي دي. خداي په دنيا کې هم له هغې سره مرسته کوي خداي پاک د پيغمبر(ص) د کورنۍ د خدمت لپاره ځينې فرښتې ټاکلې دي.

50. بحار ج 43ص56-58

## د اية تطهير او د هل اتى د سورة نزول

په عامو رواياتو کې راغلي دې چې اميرالمؤمنين على عليه السلام بي بي فاطمه (ع) حسن او حسين عليهما السلام او ددې خدمتگارې فضه نذرکړي ؤ چې دري ورځې روژه ونيسي لومړۍ شپه د روژه ماتې په وخت يو فقير ور وټکولو، حضرت على عليه السلام خپل روژه ماتى هغهٔ ته ورکړو او نورو هم د هغه په شان خپله ډوډۍ فقير ته ورکړه او په اوبو سره يې روژه ماتى وکړو دويمه شپه يتيم ور ووهلو او دوي خپل روژه ماتى يتيم ته ورکړو دريمه شپه يو اسير (بندي) راغى او دا ځل هم روژه ماتى د هغه په نصيب شو په دې وخت د خداي پاک لخوا "هَلۡ اَتَى عَلَى الاَنۡسَانِ " سورت نازل شو51 او پکې "وَيُطۡعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَى حُبِهِ مِسكِيناً وَ يَتِيماً وَ اسِيراً" (يعنې هغوې د خداي پاک محبت کې خپله ډوډۍ مسکين يتيم او اسير(بندي) ته ورکوي) د دي سر ښيندنې او انفاق اشاره ده ځينې عالمانو ويلې دې چې په دي مبارکې سورې کې د هر ډوله جنتي نعمتونو ذکر او وعده شوې ده خو د حورو او د بهشتې ښځو هيڅ ذکر نه دى شوى او دا د بي بي فاطمه (ع) احترام په وجه دي. ددې قيصې تفصيل په مختلفو تفاسيرو کې شته.

د ټولو سني او شيعه مفسرانو او راويانو اعتراف دى او په ډاکه يې ويلي دي چې د "تطهير" ايت (اِنَمَا يُرِيدُاللهَ لِيُذهِبَ عَنكَمُ الرِجسَ اَهلَ البَيتِ وَ يُطَهِرَ كُم تَطهِيراً52" د حضرت امام علي(ع)، بي بي فاطمه (ع) او حسن و حسين عليهما السلام په باب نازل شوى دى او د پيغمبر(ص) د اهل بيتو نه مطلب همدا کسان دې او لکه څنگه چې لويو مفسرانو ليکلي دي دا ايت د هغوي د پاکوالي او معصوم والي ښودنه کوي، په دې حقله نور هم په لسگونو حديثونه شته چې که څوک غواړې نو مفصل کتابونه لوستلى شي البته دلته يوازې يو حديث وړاندې کوم:

نافع بن الحمراء وايې زهٔ اتهٔ مياشتې له پيغمبر(ص) سره ؤم او ليدل به مې چې هره ورځ به گران رسول (ص) د سهار د لمانځهٔ لپاره له کوره راوتلو او د بي بي فاطمه (ع) کور ته به ورتلو او فرمايل به يې:" اَلسَلَامُ عَلَيكُم يَا اَهلَ البَيتِ وَ رَحمَةُ اللهِ وَ بَرَكَاتُه، اَلصَلوَاةُ، اِنمَا يُرِيدُ الله ليذهب عنكم الرجس اهل البيت و يطهر كم تطهيرا " اى زما كورنى په تاسو باندې دې د خداي رحمت او برکت وې. د مانځهٔ وخت دى په تحقيق سره خداي پاک غوښتي دي چې له تاسو هر ډول ککړتيا او ناپاکي لرې کړي او پاک مو کړي.53

51 . كشف الغمه ج 1 ص 413-417

52. سورة احزاب اية33

53. كشف الغمه ج 2 ص 13، امالي طوسي ج1 ص 88

## په مباهلې کې د پیغمبر(ص) ملګري

ټولو راویانو تاریخ لیکونکو اؤ مفسرانو نقل کړې ده چې   بي بي فاطمه (ع) له هغه پنځو کسانو څخه ده چې د نجران له عیسایانو سره د ګران رسول (ص) په مباهلې کې بې ګډون کړی ؤ او دا خبره په دې سربیره چې پخپله یو لوې فضیلت او لوړاوی ګڼل کیږې له هغه پیاوړو غښتلو دلیلونو هُمره چې ثابتوي پیغمبر(ص) معصوم اهل بیت علي(ع)، بي بي فاطمه(ع)، حسن (ع) او حسین(ع) دی او د پیغمبر(ص) نور خپلوان او بیبیانې په دې خصوصیت کې شریک نۀ دي د مباهلې قیصه په دا ډول ده:

د نجران ځینې عیسایان رسول مبارک ته ورغلل او د عیسی(ع) په حقله بې له پیغمبر(ص) سره خبرې وکړې، پیغمبر(ص) هغوې ته دا ایت ولوستۀ "اِنَّ مَثَلَ عِیسَی عِندَاللهِ کَمَثَلِ اَدَمَ خَلَقَهُ مِن تُراب" د خداي په نزد د عیسی مثال (چې بي پلاره پیدا شوی دی) د حضرت ادم علیه السلام د خلقت په شان دی چې ادم (بي له موره او پلاره) له خاورو پیدا کړو.

عیسایان قانع نۀ شول او اعتراض یې وکړو په پیغمبر(ص) د مباهلې ایت نازل شو او خداي حکم ورکړو "فَمَنۡ حَاجَکَ فِیهِ54...." (څوک چې هم له هغه علمه او پوهې وروسته چې تاته مو درکړه، له تاسره د عیسی په باب محاجه او بحث اوکړي، نو ورته ووایه تاسو خپل بچي او ښځې (زنانه) او نفسونه راولئ او مونږ به هم خپل بچي او ښځې او نفسونه راولو هله به مباهله وکړو او په دروغژنو به د خداي لعنت وکړو.

مباهله دې ته ویل کیږي چې کله دوه ډلې او اړخه په یوې خبرې کې له یو بل سره اختلاف لري نو په یو بل بد ووایي او له خداي وغواړي چې کوم طرف چې په باطلو دی په هغه لعنت او عذاب نازل کړه. دا کار یوازې د خداي رښتنې پیغمبران کولی شي. د نجران د عیسایانو اول ومنله او وټاکل شوه چې سبا له مباهله وشي، خو چې کله له پیغمبر(ص) لاړل نو له یو بل سره یې صلاح وکړه او اسقف ورته وویل که سبا پیغمبر(ص) له خپلو بچیو او کورنۍ سره راغی نو مباهله ونۀ کړي او که اصحاب یې له ځان سره راوستل نو بیا مۀ پریږدئ هیڅ باک نشته او حقیقي به نۀ وي.

سبا ته پیغمبر(ص) له امیرالمؤمنین حضرت امام علي(ع)، بي بي فاطمه (ع)، حسن(ع) او حسین (ع) سره مباهلې ته راغی. د عیسایانو په وړاندې په خاوره کیښناست او اهل بیتو ته یې وفرمایل کله چې زۀ دعا وکړم تاسو پرې امین ووایي. عیسایان د ګران رسول د حالت په لیدلو ډیر وویریدل او ډاډه شول چې د هغۀ طریقه د رښتونو پیغمبرانو په شان ده له هغه مبارک یې وغوښتل چې ورسره صلح وکړې او د مصالحې په توګه یې ځنې مال پیغمبر(ص) ته ورکړو او ستا نۀ شول .

---

54. سورة ال عمران اية 54

## شهادت

د پيغمبر(ص) له وفاته وروسته په بي بي زهرا باندې ډېر مصيبتونه راغلل اؤ ژوند ورته سخت شو او د خپل پلار چې عشق او مينه به يې ورسره کوله، په جدايي به يې ژړل کله کله به د پلار قبر ته تله او ډېر به يې ژړل56 په کور کې به يې هم ډېر ژړل. کله چې د مدينې خلقو د هغې په ډېره ژړا اعتراض وکړو او وې ويل چې مونږ ستا له ژړه تنګ شو نو حضرت امام علی عليه السلام د هغې لپاره په بقيع مقبره کې د بيت الاحزان(د غم کور) په نامه يوه کوټه جوړه کړه. بي بي فاطمه(ع) به هر سهار حسنين عليما السلام هلته له ځان سره بوتلل.او تر شپې پورې به يې ژړل. امام علی عليه السلام به ماښختن هغه کور ته راوستله تر دې چې د ډيرې ژړا او مصيبتونو په وجه ناروغه شوه او بيماري يې ورو ورو سخته شوه او باالاخره د همدغو غمونو په وجه د هجرت د يو لسم کال د جمادی الاول په ديارلسمه يا د جمادی الثاني دريمه نيټه يعنې د خپل ګران پلار له وفاته پنځۀ اويا يا پنځۀ نوي ورځې پس يې له دنيا سترګې پټې کړې. د شهادت په وخت د هغوي عمر قابو اتلس کاله ؤ.

## لنډه پيژنګلو:

| | |
|---|---|
| نوم: | فاطمه |
| کنيت: | ام الحسن، ام الحسين، ام المحسن، ام الائمه، ام ابيها(1) |
| مشهورلقبونه: | زهرا، بتول، صديقۀکبري، مبارکه، عذرا، طاهره، سيدةالنساء، انسيه، حوريه، ذکيه، مرضيه(2) |
| پلار: | دخدايې پاک وروستي پيغمبر(ص)حضرت محمد(ص) |
| مور: | بي بي خديجه رضی الله عنها د پيغمبر(ص) لومړۍ ماندينه او لومړۍ ښځه چې اسلام يې راوړ. |
| زوکړه: | په مکې کښې د بعثت په پنځم کال(3) |
| شهادت: | مدينه. د هجرت يوولسم کال د پيغمبر(ص) له وفاته دوه نيم کاله وروسته(4) |
| ښخيدو ځايې: | د سياسی وجوهاتو او د خپل وصيت مطابق د شپې په پټه حضرت علی عليه السلام خاورو ته وسپارله(5) او تر ننه پورې يې قبرسم ځايې نۀ دی معلوم (6) |
| اولاد: | امام حسن مجتبی عليه السلام ، امام حسين عليه السلام، زينب(ع)، کبری(ع)، ام کلثوم(ع) او محسن عليه السلام چې سقط شو |

1. کشف الغمه چاپ اسلاميه 1381 هجری قمری ج2 ص 18. مناقب شهرآشوب چاپ نجف ج3.ص132 بحارالانوارچاپ جلدج43ص16 بيت الاحزان محدث قمی چاپ مطبعه سيدالشهداء قم ص 12
2. مناقب شهر اشوب چاپ نجف ج 3 ص 133
3. مناقب ج 3 ص 132، اصول کافی ج 1 ص 458 .
4. مناقب ج 3 ص 132، اصول کافی ج 1 ص 458

56. بيت الاحزان ص 141، منتهى الامال ص 164

5. مناقب, ج1 ص 137 , اصول کافی ج 1 ص 458
6. مناقب شهر اشوب چاپ نجف ج 3 ص 133